**کتابتون ته ښه راغلاست!**
په یسټریک لنډ (Gästrikland) او هلسینګ لنډ (Hälsingland) کې ټول عامه کتابتونونه یو بل سره همکاري کوي. موږ دوی ته د هیلګي کتابتونونه (HelGe-biblioteken) وایو.

**دکتابتون کارتونه او پور ورکول مودې**
تاسو په پور دکتابونو او نورو توکو په موخه د کتابتون کارت او رمز (کودلمبر) ته اړتیا لري. تاسو کولای شی دغه کارت په ټولو HelGe کتابتونونو وکاروي. ددې کارت سره تاسو کولای شی چې کتابونه او نور (چاپې، ډیجیټل او آډیو، فلمونه، مجلې، د ژبې لاربښووني) په پور واخلي. تاسو دخپلې خوښې د HelGe کتابتون کې پور واخلئ، بیرته ورکړئ او ریزرف کړئ.
دپور ورکول موده د هغه توکو پورې اړه لري چې تاسو یې پور اخلئ. تاسو کولی شئ معمولا د څلورو اونیو لپاره کتاب پور کړئ. که تاسو غواړئ، موږ کولی شو تاسو به دپور له ختمیدو څو ورځې دمخه یو پیغام یا بریښنالیک ولیږو. مه هیروئ چې دپور رسید وساتئ.
ستاسو د کتابتون کارت ارزښت لري. تاسو د هرهغه موادو چې ستاسو په کارت اخیستل شوي دي مسوول یاست. که تاسو خپل کارت له لاسه ورکړئ، نو ژر کتابتون ته خبر ورکړئ ترڅو چې بل څوک ترې ګټه وانخلي.
ماشومان کله چې دشپږ کلنی عمر ته رسي نو کولی شي دخپل کتابتون کارت ولري. ترهغه چې دوی ۱۸ کلن شي د دوی مور او پلار یا سرپرست دهغه څه لپاره چې دوی له کتابتون څخه پور اخلي مسوولیت لري.

**پور اخیستل وړیا دي که...**
تاسو کولی شئ په وړیا ډول د هیلګی (HelGe) کتابتونونو څخه پور واخلئ. ولی تاسو به د هر یوه پور لپاره چې تاسو ناوخته بیرته ورکړئ په ورځ کې یو کرون (1 SEK) جریمه ورکړئ. ځینې کتابتونونه د ویډیو لوبو/ګیم پور ورکوي. دوی ته جریمه په ورځ کې لس (10 SEK) کرونه ده. ستاسو کارت به بند کړل شي که ستاسو ټول بې تادیه شوې جریمه له سل کرونه (100 SEK) یا ډیر څخه ده. تاسو به ونه شي کولی چې نور کتاب له کتابتونونو څخه پور واخلئ تر هغه چې تاسو د سل کرونه (100 SEK) څخه کم پور نه لرئ.

**که کوم څه چې تاسو پور اخلئ ورک او یا خراب شوی**
که کوم یو څه چې تاسو پور اخلئ له لاسه ورکړئ یا خراب شوی وي، نو دا باید لاندې تادیه شي. دا باید په یاد ولرئ چې دا قیمتونه د پور او د دې ارزښت پورې اړه لري او کیداشی حتی لوړ وي.

| | |
|---|---|
| دبالغو کتابونه (چاپي یا آډیو) | 300 کرونه |
| دماشومانو کتابونه (چاپي یا آډیو) | 200 کرونه |
| دموزیک سی دی CD | 200 کرونه |
| دماشومانو سی دی CD | 150 کرونه |
| مجلې | 50 کرونه |
| فلمونه او ویډیو لوبې/ګیم | 500 کرونه |
| دژبې لاربښووني او CD-ROMs | 500 کرونه |
| دډیزي (Daisy) آډیو کتابونه | 150 کرونه |
| دکتابتون کارت | 20 کرونه |

په www.helgebiblioteken.se کې تاسو کولی شئ هغه کتابونو چې تاسو دي په پور اخیستلو سره علاقه لرئ لټون وکړئ او یا د هیلګی (HelGe) کتابتونونو په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ.